مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد اياز نوري آزادي ۲۰۱۸/۰۵/۲۷

د بناغلي صالح محمد خان د غوښتنې په اړه

درونـد هېواد وال او سیاسي مبصر استاذ صالح محمد خان د افغان جرمن آنلاین د نظریاتو په کړکې کې د افغان لیکوال او شاعر محترم عبدالباري جهاني څخه هیله کړې ده، چې د افغان لوی فیلسوف مولانا جلال الدین محمد رومي یو خورا ارزښتانک اثر «مثنوی معنوی» کتاب د دري ژبې څخه و پشتو ژبې ته ترجمه کړي. په دې ارتباط بناغلي استاذ صالح محمد خان ته عرض کوم، چې دا مهم فرهنګي کار زموږ د خاندان د یوه غړي په همت او زیار په تازه زمان پېراو کې یعنی دوه کاله پخواء تر سره شوی دئ. افغان فرهنګ پال بناغلي نازکمیر زهیر بلخي د مرحوم مولانا د مثنوي کتاب له دري څخه پشتو ته وژباړه. د پشتو متن (۶۱۶) مخونه لري او په روانه او واضحه پشتو ژبه ترجمه شوی دئ. تاسو جناب کولای شئ. کتاب په کابل کې د اسد دانش کتاب پلورنځي څخه تر لاسه کړئ او که کوم مشکل وه، ماته د نظریاتو په کړکې کې ولیکی.

د فون نمبر ۰۷۰ ۸۹۳۹۴۴

* * *



پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ